لیکوال: محمد الجوادي
ژباړه او زیاتونه: عبدالرحمن فرقانی

۲۰۱۷/۰۱/۰۱

# ټرامپ او د زاړه استعمار د نظريې سره مينه!

دا د هغې لیکنې سرلیک دی، چې په الجزیره نت ویب پاڼه کې محمد الجوادی نومیالی تاریخ پوه، ادیب او د طب استاد، چې د روزنې، ادب او سیاسي فکر په ډګرونو کې لوی فکری تولید لري، خپره کړې ده، له کومه ځایه چې نوموړې لیکنې په نړیواله کچه مهم او د پام وړ مطالب څېړلي دي، زه يې د لوستونکو سره په لږ تصرف او زیاتوالي سره شریکوم، هیله ده د ځینو مسایلو د توضیح اړوند ګټوروي:
د ټرامپ تیت و پرک، بې واکه او بې پامه بیانونه په حقیقت کې د زاړه استعمار د نظری، (امپریالیزم) اصلي روحیه ځرګندوي، چې د بېلګې په توګه د نړۍ د هغو ستونزو د هوارولو لپاره، چې ډېری سیاسي شننونکي یې د زېږېدو لامل پخپله د امریکا متناقض او مرموز سیاستونه او دریځونه په ګوته کوي، د قوانینو د ځنګل څخه د ځنګل قوانینو ته پر وتلو د منتخب ولسمشر ټرامپ ایمان او باور دی. او په دې اړه د ټرامپ تر ټولو بربنډ او څرګند دلیل او خبره د عراق په پټرولو کې د امریکا حق د جګړې د غنیمت پر اساس عنوانول دي، په داسې حال کې چې په ټوله امریکا او لوېدیځ کې دا خبره بل چا نه ده کړې، چې د عراق جګړه د عراق د ثروتونو د غنیمت او غارت او په ټول کې د عراق د استعمار لپاره تر سره شوې ده، سره د دې چې دا کار عملاً تر سره شو، د عراق ثروتونه غارت شول، نظام له منځه ولاړ، حکومتي موسسې له فعالیت څخه ولوېدې، د عراق ځواکمن اردو منحل شو، د مذهب، نژاد او ژبې د توپیرونو پر بنسټ ملیشې را منځته شوې، چې نن د عراق په نظام کې د پرېکنده او قاطع اغیز ادعا کوي، آن تر دې چې د عراق نظام هر مهال د خپلو ګټو لپاره ګواښلی شي او په جوړښت کې خپل شروط وړاندې کولې شي. د عراق د نظام د ضعف له امله په عراق کې داسې سیمې را منځته شوې، چې پکې سختدریخه ډلې د خپلو فعالیتونو لپاره پراخ ډګر ومومند، چې نن په منځنۍ ختیځ کې ډېر هېوادونه  تهدیدوی او د جګړې د تداوم له امله د بې ثباتۍ فضا خوره شوې ده، و په نوموړې فضا کې امریکا او نور استعماري ځواکونه خپل استعماري اهداف تعقیبوی. د یادونې وړ ده چې پر عراق باندې نظامي یرغل ( زوړ استعمار) د جمهوری غوښتونکو له لوری پیل او دیموکراتانو د خپله سیاسي فلسفې خلاف په ټول قوت سره د زاړه استعمار اساسات پلي کړل...
سره له دې چې د ټرامپ ځرګندونې په دې اړه په ټول کې د امریکایی وینا سره، چې ټولو پخوانیو ولسمشرانو پرې پابند وو، توپیر لري، خو توپیر بیا دا دی، چې باراک اوباما چې ټرامپ ته تر ټولو پخوانیو ولسمشرانو لنډ ولسمشر دی، د ټرامپ د نظریاتو سره په خپلو سیاستونواو دریځونو کې ورتوالی لري او دانتخاباتو پر مهال د کمپاین وینا یې په دې اړه د کړنو سره پوره توپیر لري، او هغه څه یې په نړیواله کچه پلي کړل چې د جمهوري غوښتونکو د سیاسي فلسفې کړښې ټاکي. او د نړیوالو کړکیچونو او مسایلو اړوند یې د اخلاقی او انساني معایرو او راکړې ورکړې بېل کود پرانیست، چې تر دې وړاندې نړۍ نه ورسره مخ شوې او تر دېره دا کود هغه څه دي، چې امریکا په وروستیو لسیزو کې پرې باور موندلي او هغه دا چې د نړۍ هېوادونه باید دامریکا اوآمر ومني او د سیاستونو څخه یې سر غړونه ونه کړي. او د بېلګې لپاره به مبالغه نه وي، چې د امریکا د اخلاقی او انساني کود دبدلون په اړوند د مصر نظامي کودتا، د سوریې مساله، د ترکیه کودتا، د یمن شخړه، د افغانستان کشالې ...  ته اشاره وکړو، چې امریکا د خپلو اهدافو لپاره پکې د جګړې د تداوم لپاره د ښکیلو اطرافو تر منځه د جګړې بلانس ساتلی دی.
ښکاره ده چې د امریکا د سیاست اخلاقی او انسانی کود د مصر د انقلاب او په ټول کې دعربي پسرلي را پدیخوا د لوی بحران سره مخ شوی دی، که څه هم چې دغه بدلون په لومړیو کې د منلو وړ نه ؤ، خو د شواهدو په را منځته کېدو سره اوس تر لمر روښانه او څرګند دی. په سوریې کې د اسلام او مسلمانانو سره دښمني او د ځواک تمامول. په ډېرو اسلامی هېوادونو کې د ډیموکراسۍ د تجربې او پروسې مکرجن تطبیق لکه په الجزایر، مصر، لیبیا ، تونس، یمن او افغانستان.... کې تر پوښتنې لاندې دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولئ

خو نوموړي دوه ګوني سياست چې د تناقض بې بريده پولې ته رسېږي، په حقيقت کې د هغې نړيوالې ګدودۍ لامل شو، چې د نړۍ سياسي، اقتصادی او ټولنيز ثبات او ټيکاو يې په بېلابېلو ډګرونو کې له ګواښ سره مخ کړ، که څه هم چې په لومړيو کې ډېرو هېوادونو دغې امريکايي واکمنۍ ته په بېړنۍ توګه غاړه کېښوده.
خو له کومه ځايه چې د انسانی ژوندانه پرمختګ او سوکالي د توازن او انډول، د ثبات او نوښت او د سولې او پام اړولو له اصولو او اساساتو څخه سرچينه اخلي، نو د غو له پامه غورځول شوو اساساتو په چټکتيا سره ځان د دغو نا انډوله او متناقضو سياستونو او دريځونواو دزاړه استعمار د نظريې تر اغيز لاندې وموند. چې روښانه بېلګه يې د انګليسانو ټولپوښتنه وه، چې تر سره شوه، او په ټول قوت سره د استعماري ځواک د هغه له وړاندې ټاکل شوي سياستونه رد کړ، چې د ولس او ملت اراده پکې تمثيل شوې نه وي.
خو د حيرانتيا خبره بيا دا ده، چې د اوروپا د بدمرغۍ انځور هغو لوړپوړوچارواکو ته د امريکا د مرموزو څېړنو او سياستونو په لړ کې داسې انځورېږي، چې ګواکې چټکې برياوې په دې کې نغښتې دي، چې رسنۍ د هغو برياليو ولسمشرانو انځور چې توپونه قادر نه شول تر څو يې د واک له ګدۍ څخه ګوښه کړي، متناقض او د حقيقت څخه لېرې باور وړاندې کړي. او دغه راز د اوروپا سياستوال اردوګان په ترکيه کې ګواښي. او همدا راز يې په مصر او الجزاير کې انقلابونه وګواښل. او دا راز د لويديځ سياست نه يوازې په ړانده ډول پر ځان د اسلام سره دښمني اثبات کړه، آن تر دې چې د بشري حقونو او انسانی ټولنو د ثبات او نړيوال ټيکاو په هکله يې هم خپله دښمني پر ځان ثابته کړه.
اورپا پرته له دې چې په دې پوهه شي، چې اردوګان، ملت يې، شجاعت يې، نرتوب يې او قاطعيت يې له لاسه ورکوي، په عربي او اسلامی نړۍ کې د کودتاوو د ملاتړ له امله دوه چنده بيه پرې کوي. او کودتاچيان تر دې برېده د اورپا لمنه او تندی نه داغوي، بلکې د اسلامي نړۍ کې د انساني او اخلاقي معيارونو څخه لېرې، پر وژنو او رټنو سره يې زړه په هغو وينو رنګوي، چې پخپله په اوروپا کې هم کله نا کله بېږي.
د زاړه استعمار چې په ټول قوت سره راستون شوی دی، لومړې وسيله په سياست کې د اردو ښکيلول دي، او دا هغه وسيله ده، چې د استعمار لوی رسنيز، استراتيژيک او د پاروني زيار ته اړتيا نه لري، له کومه ځايه چې دربېمه نړۍ کې په اردو کې په اقتدار کې د پاتېکېدو روحيه او مينه د سپيڅلتيا تر برېده ځواکمنه ده. او تر ډېره برېده په اقتدار کې د پاتېکېدو په موخه د احساساتی برخورد له لارې د جګړې اور بلوي، بخت دي، په ځای دې چې په طبيعی برخورد سره چې د جګړې د پای لامل کېږي خپل پاتېوالی و لټوي.
د پام وړ ده، چې په دې برخه کې دې اشاره ولرو ، چې د لويديځ د ټولو دقيقو اټکلونو سره سره لويديځ له دې څخه نلېږي، چې (قدر) د الله متعال پرېکړه د دوی د ارادې او هغې ټګلارې څخه چې په دقيقه توګه ارزول شوې وي او د مخلوق ټولو شرارتونو ته پکې بشري تدبير په پام کې نيول شوی دی، مخالفه راځي. اوپه پای کې د الله تعالی د دې قول سره سم چې ( ان الله يهمل و يهمل...) پر ټولو هغو کړيو تندر را نازلوي، چې د نړيوال ثبات د لمنځه وړلو په برخه کې هلې ځلې کوي. او د تجربو څخه د زدکړې مهال اوس تېر شوی دی، دغه د زاړه استعمار نظريې د ودې او پراختيا په حال کې ده، تر څو د نوي امپرياليستي کړيو دتصور لپاره د تطبيق ميکانيزمونه وړاندې کړي، او په پای کې د ټکر او تصادم لپاره نوي پاڅونونه را منځته کړي. او د اړينو شرايطو په را منځته کولو سره نوموړي نوې استراتيژی په دې نوم چې د امريکا استراتېژۍ ده، د تطبيق وړ وګرځيې.
خو دوهمه وسيله چې د زاړه استعمار نظريې، چې په ټول قوت سره راستنه شوې ده، هغه د رسنيو بې برېده ګمارل د دې لپاره چې فکری او تفکيري، سياسی او دينی متفاوت نظرونه او تفسيرونه را منځته کړي.
په ټول کې په اسلامی او دربېمه نړۍ کې ملي رسنې هم تر ډېره برېده د تاسيس او تمويل په برخه کې د نړوالو رسنيزو شرکتونو تر اغيز لاندې واقع شوې دي، او د حيرانتيا خبره بيا دا ده، چې نوموړې واکمني په مخامخ او څرګنډ ډول اعمالېږي. او دغې ښکارندې خصوصي او شخصيي رسنۍ د زلميتوب په مرحله کې پاتې کړې دي، او دا د رسنيو د ودې او پراختيا په برخه کې دهغه نوي طبيعی بهيرلړ دی، چې د ودې په حال کې هېوادونو کې د وګړي د وجدان د روزنې په برخه کې اغيز لري او نوموړي وګړي، تراوسه د پخوالي هغې مرحلې ته نه دې رسېدلي، چې د چارچاپيره محيط ستونزې او دسيسې درک کړي. او دا په هغو رسنيو کې ډېره روښانه ده، چې امريکا يې د ډېموکراسۍ د پليکېدود پروسو په پلمه ملاتړ کوي. او په دې توګه ملي رسنۍ د نړوالو رسنيزو شرکتونو تر اغيز لاندې واقع کېږي.
خو دربېمه وسيله، د زاړه استعمارد نظريې د تطبيق لپاره، چې په ټول ځواک سره راستنه شوې ده؛ د داسې مخالفينو را پارول چې د خپل مخالفت په اړه روښانه انځور نه شي کولای، او په حقيقت کې توظيفي يا ګمارل شوی،مخالفت د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

فکر او کړنو ارزونه کوي، په داسي حال کي چي تفسيري مخالفت د دين او سياست او اقتصاد اړوند نژادي تړاو ته بلنه کوي، نه هم فکري تړاو ته!

او نوموړي تصور يا باور د پارونکو پرګرامونو له لارې تنظيمېږي، چې په بربنډه توګه د اقليتونو او نژادي تړاو تر احساساتو را څرخېږي. او نوموړی باور کېدای شي ډېرو بې شمېره کړيو ته دننه شي او خپل ځای پکي و مومي. او دا ښکارنده کولای شي، چي رسول الله (ص) د بيان خلاف( المسلمون فی توادهم وتراحمهم کمثل الجسد الواحد اذا اشتکی منه عضوء تداعی له ساير الجسد بالسهر والحمی.) د مسلمان ملت په جسد کي بېلتونونه را منځته کړي. او نوموړې ښکارنده د دې لامل کېږي، چې ډېرې هېوادونه د دوه ګونو او مشبوهو اصطلاحاتو ته د مطبوعاتو په ډګر کي غاړه کېږدي، د بېلګي په توګه اوس امريکا په رسنيو کي د خپلو تجسسي او استخباراتي موسسو څخه په ټول وياړ يادونه کوي، سره له دې چي په نړۍ کي د ګڼ شمير ستونزو او شخړو لامل د همدي کرغيړني موسسي کړني دي.

خو تر ډېره بريده د نړۍ ګڼ شمير هېوادونه د امريکايی مطبوعاتو تر اغيز لاندې واقع دي.

په پای کي څوک د ټرامپ کورني شعارونه او بيانونه نه غولوي، جمهوري خواهان د خپلو اهدافو لپاره د زاړه استعمار نظريه تطبيقوي، څرنګه چي اوباما د خپلي سياسي فلسفي خلاف د زاړه استعمار نظريه پلي کړه او د امريکا د سياستونو د سرو کړښو څخه يې پل وا نه ړا وه.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ